Sociology & Cultural Research Review (SCRR)
Available Online: https://scrrjournal.com
Print ISSN: 3007-3103 Online ISSN: 3007-3111
Platform & Workflow by: Open Journal Systems
https://doi.org/10.5281/zenodo.22142108

# The history of Feminist Movement
# دتانیثیتدتحریک تاریخي پس منظر

**Nasira Begum**
Ph.D. Research Schollar, PSC, BKUC
**Dr Faqir Muhammad Faqir**
Lecturer, PSC, BKUC

**Abstract**
*In this article, we discussed the historical background of Feminism and Feminism Movement in world. The women are Faces many social, Cultural and religious issues .They lives their life in very bad conditions in social life. They could not take any decision about their life.*
*The sign Feminism of in world started from Charles Fourier in 1837. This Movement actually for the Justice and their human rights in the entire world. This time the feminist movement spreads in world.*
*In Pashto literature also contains the feminist sign in prose and Poetry.*
*Key Words: History of Feminism movement, Feminist, Feminism purposes.*

د تانیثیت د تحریک ابتداء، سوچ او د ښځو د حقونو دپاره اواز پورته کول ډیر او بنیادي قدم وو ځکه د نیمې نه زیاته ابادۍ په ښځو مشتمله ده ـ ښځه او سړے د معاشرې د انساني ابادۍ دوه اهم غړي دي او د ژوند د پومختګ او ترقۍ په لاره کښې د دواړو کردار یو شان د اهمیت جوګه دے ـ د سړو د برترۍ په ټولنه کښې ښځې همېشه د استحصال او جبر سره دي او دوي تل د سړو کمترې ګڼلې شوي دي ـ د ژوند په هره مرحله کښې د محکومیت ښکار شوي دي ـ تر دې چې د سړو د خدمت او خوشحاله ساتلو د یو جنس په توګه تسلیم شوي دي نور ورته د انسان په سترګه هم نۀ شو کتلې ـ او د معاشرتي سپک نظر دوي هم د غلامۍ د ژوند قبلولو ته مجبورې کړې ـ
په داسې حالا توکښې ځنو مغربي ښځو د سړو د ځانه ددې جوړو کړو معاشرتي روایتونو او قدرونو نه د بغاوت چغه پورته کړه ـ د ښځو د پاره د دوي د بنیادي ضرورتونو غوښتنه ئې اوکړه او د دوي د حقونو د حاصلولو هڅې یې رواني کړې ـ دا یو ډیر اهم قدم په دې وو چې دا همت کول اسان کار ځکه نۀ وو چې په ذهني توګه قبول شوي نظام نه بغاوت کول لویه سینه، عزم او جذبه غواړي ـ په دې هم ګټور ګام وو چې د نیمې نه د زیاتې انساني ابادۍ مسئله وه چې مستقل د طبقاتي جبر سره مخ وو ـ ښځو ته ددوي د حقونو شعور او پوهه ورکول ډیر اهم او بنیادي کار وو ـ ددوي د سوچ ، فکر او احساس مخې ته راوړل او ددوي نمائندګي کول د وخت ضرورت وو او د دنیا د پرمختګ لاره وه ـ
د ښځو د حقونو د تحریک د پاره ډیرې قربانۍ ورکړې شوي دي ـ په ذاتي حېثیت اکثر کوششونه کامیاب شوي هم نۀ دي ـ نو بیا د اجتماعي کوششونو سلسله شروع شوه ـ ډیر تنظیمونه جوړ شو ، کانفرنسونه منعقد شو او باقاعده هلې ځلې رواني شوې ـ د سړو په ناجائزه بلا دستۍ تنقید شروع شو و د ښځو د حقونو او خودمختارۍ مطالبه شروع شوه ـ

د ښځو د ازادۍ تحریک یعني فېمینزم اولنۍ ښځه د فرانس هیوبر ټائن آکلرټ ګڼلې شي چې د نولسمې صدۍ آخري دور سره تعلق لري ـ ددې نه وړاندې هم د ښځو تحریکونه چلېدلي دي خو د فېمینزم اصطلاح له دې ځایه شروع کیږي ـ (۱)

فیمینزم وړومبي اثار په شعوري انداز په یورپ کښې مخې ته راغلے دے او هم په دغه ملکونو کښې ترقي هم کړې ده ـ دد ې تحریک اولنۍ نخښې په فرانس کښې مخې ته راغلي دي او د یو باقاعده هلو ځلو ابتدا ددغه خاورې نه شوے دے ـ د دې تحریک ځهره په ۱۸۳۷ کښې د فرانس د چارلس فوریئر (Charles Fourier) ده ـ ددې تحریک د پاره د فېمینزم او فېمینسټ اصطلاح په اول ځل فرانس او نیدرلېنډ کښې په ۱۸۷۲ کښې ښکاره شوې ده ـ بیا وروستو په ۱۸۵۲ او ۱۸۹۵ کښې دا اصطلاحات په ترتیب سره د آکسفورډ انګلش ډکشنرۍ حصه شو ـ د مسلسل کوشش په وجه دې تحریک وروستو بېن الاقوامي رنګ واخستو او په ټوله دنیا یې اثرات خوارۀ کړل ـ او ښځو سره سره سړو هم ددوي د حقونو حمایت شروع کړو او د ښځو په ژوند کښې نوې انقلاب راغلو ـ(۲)

د ښځو په معاشره کښې د برابرۍ ، سماجي بدلون او مساوي حقونو د غوښتلو کار او زیار دے ـ نولسمه صدۍ کښې ددې تحریک اثرات ښکاره کېدل شروع شو ـ ددې وړاندې کۀ هر څو ځنې انفرادي کوششونه شوي دي خو د هغې اثر د یوې خاصې دائرې نه بهر شوے نۀ دے ـ لکه په دولسمه صدۍ کښې هېلډېګارډ او د څوارلسمې صدۍ شاعره او لیکواله کرسټین دي پیزان زیات شهرت لري چې دوي په خپلو لیکونو کښې د ښځو د تعلیم او مختلفو شعبو کښې د ښځو د برابر مقام خبره کړې وه ـ (۳)

ددې تحریکونو او کوششونو مطلب او عرض دا وو چې ښځې هم د خپل مقام ،حېثیت او حقونو نه خبر شي او دې حقیقت خبر شي چې ددوي هم په ټولنه برابر مقام دے او ددوي د وجود نه د معاشرې وجود ممکن هم نۀ دے ـ ددوي هم خپل جذبات، احساسات او محسوسات دي او دا حق لري چې په ژوند کښې د خپلې مرضۍ او ضروتونو مطابق ژوند تېر کړي ،ددوي دې د پاره نۀ دي پېدا شوي چې په پټو سترګو هره ناحقه او ناروا هم برداشت کړي ـ د قانون او فطرت له مخې د ښځو او سړو یو رنګ انساني وجود دے او دواړه د انساني رویو او حقونو حق لري ـ د نسانیت په نظر ورته کتل ددوي بنیادي حق دے ـ کۀ په معاشره کښې اوي د کم او سپک نظر سره مخ دي نو دا فطرت قانون نۀ دے دا د انسان جوړ کړې شوې د خپلې مرضۍ طریقې دي چې د هغې په ذریعه د ځان نه آقا او له دوي نۀ وینځې جوړې کړي دي ـ د جهالت، ظلم او بې خبرۍ هم یو حد وي نو دا احساس خو به یو ورځ خامخا پېدا کېدلو ـ څومره چې د علم رڼا خورېدله د هر چا حقونه څرګندېدل ـ کله چې د حق او انساني حق خبره شوه نو په دې کښې صرف د ښځو کوششونه نۀ وو بلکې د روشن فکره او حق پرسته سړو هم لوې لاس دے او باقاعده د ښځو د حقونو غوښتلو او ددوي د مرستې او ملګرتیا کار هم ترسره کړے دے او هم دا وجه ده چې دې تحریک عالمي شهرت تر لاسه کړو ـ

۱۷۹۰ کښې د فرانس د انقلاب په اثر کښې د ښځو د ازادۍ تحریکونو هم وده اومندله او د ښځو هم عوامي مېدان ته راتګ ممکن شو او په ټولنه کښې د کمزوري کردار ادا کولو په ځاے د طاقتور کردار لوبولو ته چمتو شوې ـ په ۱۷۹۲ کښې میري ولسټون د زنانه حقونو متعلق مشهور کتاب (Vindication of the Rights of Woman) اولیکلو کوم چې د ښځو د حقونو په تحریک کښې بنیادي کردار لري او د بنیادي ماخذ مقام ورته حاصل دے ـ دا مېرمنه په کال ۱۷۵۹ء کښې

شوې ده او په ۱۷۹۷ء کښې مړه شوې ده ـ د فیمینزم په تحریک کښې ځلنده مقام لري چې د ښځو د حقونو د پاره یو منلې شوې اواز دے ـ د ښځو د تعلیم او بنیادي حقونو غوره علمبرداره وه ـ

"مغرب میں تانیثی جدوجہد کا صحیح معنوں میں آغاز اس وقت ہوا جب حقوق نسواں کے تحفظ کے لئے بعض عورتوں نے انفرادی طور پر آواز بلند کی۔ اس ضمن میں برطانیہ کی میری وول سٹون کرافٹ کا نام خصوصیت سے قابل ذکر ہے جس نے اٹھارہویں صدی کے نصف میں سماجی سطح پر عورتوں اور مردوں کے درمیان نابرابری کے خلاف آواز اٹھائی اور حقوق نسواں کی جدوجہد میں بڑھ چڑھ کر حصہ لیا۔ اس کا موقف تھا کہ عورتیں مردوں سے کم نہیں ہیں۔ لیکن وہ کمتر اس لئے سمجھی جاتی ہیں کہ وہ تعلیم جاتی سے محروم ہے۔ اس کا کہنا کہ مردوں اور عورتوں rational beings کے طور پر دیکھا جانا چاہئے۔ نا برابری کو ختم کرنے کے لئے وہ ایک ایسی سماجی نظام وضبط کی ضرورت کے خواہش مند تھے جو جواز پر مبنی ہو۔ حقوق نسواں سے متعلق اس کی مشہور کتاب تانیثیت پسندوں کو آج بھی فکر کی دعوت دیتی ہے۔ میری وول اسٹون کرفٹ کے بعد ہی حقوق نسواں کے تحفظ کے لئے منظم طور پر جدوجہد کا آغاز ہوا۔ جس نے مغرب میں ایک تحریک کی شکل اختیار کرلی، اس تحریک میں ابتدا میں عورتیں ہی پیش پیش رہیں، لیکن بعد میں مرد بھی اس تحریک کا حصہ بنے۔"(۴)

ترجمه : په مغرب کښې د تانیثیت دکوششونو په صحیح معنو کښې شروع هغه وخت نه اوشوه چې د ښځو د حقونو د تحفظ د پاره ښځو په انفراده توګه اواز پورته کړو ـ په دوي کښې د برطانیې د مېري وول ستون کرافټ نو په زیات شهرت لري ، چا چې د اتلسمې صدۍ نیمه کښې په ټولنیزه سطح د ښځو او اړو تر مېنځه د نابرابرۍ خلاف اواز پوتره کړو او د ښځو د حقونو په کوشش کښې یې پوره پوره برخه واخسته ـ ددې موقف دا وو چې ښځې د سړو نه کمې نۀ دي خو کمې ځکه حسابولې شي چې د تعلیم نه محرومې دي ـ د هغې وینا وه چې ښځو او سړو ته په حقیقي بنیادونو کتل پکار دي ـ د نابرابرۍ ختمولو د پاره یې د ټولنیز ترتیب یا نظم و ضبط خواهش لرلو چې په حقیقت اړانه وو ـ د ښځو د حقونو باره کښې ددې مشهور کتاب "A vindication of the right of woman 1792 " نن هم تانیثیت خوښو ته فکري رڼا ورکوي ـ مېري وول ستون کرافټ نه پس د ښځو د حقونو د تحفظ د پاره منظم کوششونه شروع شول ـ دې سره یې په مغرب کښې سړي هم د فېمینزم په تحریک کښې شامل شول ـ

ښځینه ذات سره د نابرابرۍ،زیاتي او استحصال اواز پوته کونکې او باقاعده عملي کوشش کونکې او لیکونکې مېري وول استون کرافټ لیدلې شي ـ هغې د کتاب لیکلو نه ورانديې هم په ۱۷۸۷ کښې یو مضمون لیکلې وو چې عنوان یې "Thoughts on the Education of daughters" وو ـ بیا وروستو یې دغه کتاب لیکلې دے ـ دا کتاب یې د اېډمنډ برک د کتاب "A Vindication of rights of Men" په جواب کښې لیکلے دے.(۵)

مېري وولسټون کرافټ د فېمینزم داسې ژوندې اواز دے چې د ښځو په دې تحریک کښې یې نوې روح اچولے دے او د یو طاقتور پېغام انتظام لري ـ ددې د نکته نظر په اثر کښې د ښځو په ټولنه کښې د زبون حالت نقشه بدله شوه او یو نوې روح پکښې پېدا شو ـ

د تانیثیت د تحریک اصل ابتدا د فرانس د انقلاب د دور نه شروع کیږي چې د ۱۷۸۹ ء سره تعلق لري ـ په اصل کښې دا تحریک زورګیر جاګیردار نظام خلاف وو خو دې دوران کښې ښځو هم د ازادۍ او خپلو حقونو د غوښتلو کوشش

شروع کړو ـ په دې کښې د ښځو په تعليم او د دوي د صلاحيتونو په ښکاره کولو توجه ورکړې شوه ـ

دا انقلاب دغلامئ او جاګيرداری خلاف د سړو بغاوت وو خو ښځو ته هم د خپل اواز څرګندولوموقع په لاس ورغله او پوره پوره فائده يې ترې واخسته ځکه چې ددې نه پس دا تحريک ډېرو ملکونو کښې خور شو اع باقائده اجلاسونه او تنظيمي کار پرې شروع شو ـ په منظمه طريقه يې اجلاسونه روان شو او کنونشنونو او جلسو او جلوسونو سلسله روانه شوه ـ په ۱۸۴۰ کښې چې لندن کښې د غلامئ خلاف کوم بېن الاقوامي کنونشن شوې وو نو په هغې کښې ښځې نۀ وې شريکې کړې شوې نو په امريکه کښې دوي د خپلو حقونو د پاره د کنونشن انعقاد اوکړو ـ دغسې په ۱۸۴۸ کښې هم په امريکه کښې د سنيکا فالز کښې د ښځو د حقونو په موضوع غونډه اوکړه ـ ۱۸۸۸ کښې په واشنګټن کښې انټر نېشنل کونسل فار ومېن په نوم د بېن الاقوام اتحاد د پاره تنظيم جوړ کړې شو ـ د دغه کوششونو په نتيجه کښې په اول ځل په نيوزي لينډ کښې په ۱۸۹۳ کښې ښځو ته د ووټ او رائې ورکولو حق حاصل شو ددې نه وړاندې ښځو ته دا حق حاصل نۀ وو او بيا په نورو ملکونو کښې ډېر وروستو دوي ته دا حق ورکړے شو ـ هم ددوي د دې محنت په وجه انګلينډ کښې د ومېنز سوشل اېنډ پوليټيکل يونين قيام هم په ۱۹۰۳ کښې مخ ته راغلو ـ په جرمني برلن کښې انټر نېشنل ومېن سفرېج الائنس هم د ټولې دنيا د ښځو د رائے د حق د پاره په ۱۹۰۴ کښې جوړ شو ـ په هېګ کښې د ومېن انټر نېشنل لیګ انعقاد په ۱۹۱۵ کښې اوشو ـ دا دوي مسلسل کوششونه وو چې عالمي توجو يې حصله کړه او ۱۹۷۵ کال د اقوام متحده له خوا د ښځو عالمي کال اومنلے شو ـ

د ښځو د اتحاد کښې د ومېن لبرېشن مومنټ( ۱۹۶۰-۱۹۷۰ ) يو د خوړولی sisterhood”

نعره وه چې "sisterhood is power full" يې اواز وو ـ دا هم يو مضبوط او طاقتور اواز او تحريک وو چې د ښځو په بېدار، اتفاق او اتحاد کښې يې لوي لاس لرلے دے او ښځو ته يې ددوي شناخت ورکولو لوي کردار لوبولے دے ـ

ددې کوششونو مطلب دا وو چې د ټولنې په هر کار او هره شعبه کښې د ښځو او سړو يو شان برابره حصه وي ـ په سياست، معيشت،تجارت،حکومتي او غېر حکومتي چارو کښې ورته مساوي حقونه تر لاسه شي ـ د سړو له طرفه بې ځايه قېدونه او پابندی ترې ختمې شي او په ازادی دخپلې مرضی مطابق ژوند تېروي ـ

پښتو ادب کښې د تانيثيت په حواله کۀ مونږ نظر وکړو نو په دې کښې هېڅ شک نشته چې پښتنه ټولنه کښې مسئلې ډېرې دي او دوي ډېر ټولنيز مشکلات دي،معاشرتي بنديزونه او روايتي جبر ددي ژوند ګران کړے دے ـ (۶)

پښتو ادب کښې د ښځو د حقونو خبره راشي نو په اولسي ادب کښې هم او په کلاسيکي ادب کښې د ښځو د حقونو او ددوي د مقام او اهميت ذکر موجود دے ـ په نثري او منظوم ادب کښې د ښځو په خپله هم نمائندګي موجوده ده او د نارينه ليکونکو له خوا هم ددوي د حقونو او په ټولنه کښې د کردار او اهميت ذکر موجود دے ـ په ټولنه کښې ددوي خدمت ته په درنه سترګه کتلي شوي ـ په جديد دور کښې په نظم،نثر او فکشن کښې د ښځو ټولنيزو مسئلو ته ډېر توجه شوې ده ـ ددوي د بنيادي حقونو لکه تعليم،روزګار،صحت او د خپل ژوند باره د فېصلو د اختيار ورکولو هڅې شوي دي ـ په اولسي ادب کښې ښځه په عامه توګه د قربانئ علامت ګرځولے شوے دے،د دوي د صبر، استقامت او برداشت خبرې کيږي خو ورسره ددوي د خپلې مرضئ، اختيار د نشت او يا

د وکولو باره کښې هم ذکر موجود دے ــ او دي سره د ناروا سلوک غندنه هم موجود ده ــ (۷)

پښتو کښې چې کوم تانیثي پرمختګ یا اواز دے نو دا د مغربي تانیثیت په رنګ کښې رنګ نۀ ښکاري ــ دا ځکه چې د پښتو د معاشرې او کلتور خپل روایات او قدرونه دي او لا پښتنه تولنه د مغربي تانیثیت نه یوه صدي خو ضرور وروستو ده او لا ډېر مزل ورته پاتې دے چې تر دغې لارې رسي ــ نو ډېر سفر به غواړي ــ دلته نن هم ښځې د تعلیم او معاشرتي ژوند نه محرومې دي او ددې د پاره لا د اسلام په حواله د ښځو په بندېزونو ذکر کیږي، چې دا سمه خبره نۀ اسلام کله هم د ښځو په تعلیم او تربیت پابندي نۀ ده لګولې ــ

**"اگر بعض زمانوں میں خواتین کو علم سے محروم رکھا گیا، زندگی کے دھارے سے کاٹ دیا گیا، اور ایک گھریلو سامان بنا کر گھر میں ہی رکھا گیا، نہ اسے شوہر کچھ دیتا تھا (یہاں تک کہ اس کے مسجد میں جانے پر بھی پابندی لگادی گئی) اگر کسی مانے میں ایسا تھا تو اس کی ناواقفیت، غلو، اسلامی تعلیمات سے انحراف اور غلط روایات کی پابندی تھی، اس کا حکم اللہ نے نہیں دیا تھا، اور اسلام نہ کل کی ان غیر شرعی روایات کا ذمہ دار تھا اور نہ ہی وہ آج کے دیگر غیر شرعی اقدار کا ذمہ دار ہے۔"(۸)**

اوس په جدید پښتوادب کښې زنانه لیکوالې هم د شاعرئ او نثر په مېدان کښې او فکشن کښې مخې ته راغلي دي او ډېر په جرات سره په خپلو لیکونو کښې ښځینه مسئلې په ګوته کوي ــ ورسره ورسره نارینه لیکوال هم لګیا دي دغه مسئلې وړاندې کوي ــ او مونږ دا وئیلے شو چې اوس اوس د عالمي تانیثیت اثرات په پښتو ادب کښې په شعوري دول څرګندېدل شروع شوي دي ــ

## حوالې


۱: جون ہانام، عورتوں کی تحریک ازادی، مترجم، یاسر جواد / سعدیہ جواد، لاہور، الفیصل ناشران، 2021ء، ص،20۔

۲: ڈاکٹر الماس خان و ڈاکٹر مصباح رضوی مشمولہ، تحقیق نامہ، شمارہ ۲۵، جولائی-دسمبر ۲۰۱۹، ص، ۱۳۸۔

۳: جون ہانام، عورتوں کی تحریک ازادی، مترجم، یاسر جواد / سعدیہ جواد، لاہور، الفیصل ناشران، 2021ء، ص، ۲۲۔

۴: صالحہ صدیقی، اردو ادب میں تانیثیت کی مختلف جہتیں ایک تنقیدی مطالعہ، مشمولہ، اردو ادب میں تانیثیت کی مختلف جہتیں، دہلی، ایجوکیشنل پبلشنگ ہاوس، 2013ء، ص،30-31۔

۵: ڈاکٹر سیما صغیر، تانیثیت اور اردو ادب، نئی دہلی، براؤن پبلی کیشنز، 2018ء، ص،16۔

۶: ډاکټر انیتا اعظم، د پښتو په افسانوي ادب کښې د ښځې اولسي مقام او کردار، پېښور، ۲۰۱۰، مخ، ۶۔

۷: ډاکټر نصیب الله سیماب، د پښتو ادبي تیوري، کوټه، تکتو کتاب کور، ۲۰۲۵ء، مخ، ۱۵۹-۲۶۰۔

**۸: علامہ یوسف القرضاوی، اسلامی معاشرے میں خواتین کا مقام اور متوقع کردار، مترجم الیاس نعمانی ندوی، لاہور، نوید حفیظ پرنٹرز، 2023ء، ص،115-116۔**